مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۲/۲۴

# هر زر کاله روسته

هغه سپېځلی سرړی

تر موږ بختور و،

چي خپل دار يې پر خپلو زخمي اوږو

تر خپل وژنځایه ووړ

موږه

- د دغي زماني محکومان -

خپل جلادان هم پر اوږو ګرځوو.

هغه وخت،

سپېڅلي سړي ويل:

د خدای استازی دی

او اوس

زموږ جلادان

- چي موږ پرخپلو زخمي اوږو کينولي -

د خدای استازي دي.

***

ایله یو زر او یو سل او څو کاله روسته

بغداد

د اسمايي پر لمن راشین شو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

منصور نه وو،

خو

ټول هغه خلک

- چې د حلاج د قتل ننداريې ته راغلي وو -

وژنځای ته ولاړل

دا ځل

جلاد چيغه کړه:

"اناالحق"!!!

او

راټول شوي خلک

-چې پرېوتلي وو جلاد ته د باور په سجده -

قتل شول

قتل شول

د حق په نامه.

غبر شو،

«د دوه تورو پاچا»

د اسمايي د وينو جام پورته کړ:

د جلادانو دې وي سر سلامت!!!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ